# An overview of Dr Salma Shaheen's literary status

# د ډاکټر سلمٰی شاهين د ادبي مقام يو جاج

Uzma Gul [1]★

**ABSTRACT**

*Dr. Salma Shaheen is a renowned writer and poetess. She has done a lot of work on Pashto language and literature. Her remarkable contribution in the field of Pashto language and literature is unforgettable. She has written many books on all spheres of life. Her first collection of poetry was published under the title of "Naway Sahar". Her second poetry collection was published under the title "Za Hum Haghase Wara Way" and won two awards. "Raweel" and "Intekhab-e-Shaheen" were published in 2003 and 2011 respectively. Beside this, she has a lot of unpublished poetry also. She is also a good prose writer. She has written short stories, novels, light essays, an autobiography, and a travelogue. She is also a good researcher. She did her Ph.D on the topic "Modern Verse in Pashto". Her literary works have been mentioned in many books, such as "Pukhto Adab Ke Da Mermano Barkha" by Dr. Shah Jehan and "Peenza Shamy" by Professor Afzal Raza etc. Some research papers have been written on her life and works, such as "Prof. Dr. Salma Sheen Jwand Ao Adabi Khidmaat" by Dr. Farkhanda Liaqat. In this paper her contribution to Pashtu literature will be discussed at length.*

***Keywords:*** *Pashto intellectual, good researcher, prose writer, Pashto Language*

[1] Uzma Gul, PhD scholar, Pashtu Department, University of Peshawar

ډاکټر پروفېسر سلمٰی شاهین د موجوده وخت په ښځینه لیکوالو کښې د یوې شاعرې، نثر لیکونکې اوڅېړنګارې په حېث پښتوادب او پښتون اولس کښې ځانته یو جوت مقام لري . هغې د خپل قلم او فکرپه ذریعه نظم او نثر په صورت کښې پښتو او اردو ادب ته چې کومې فن پارې بخښلې دي.د هغې وجه سلمٰی شاهین پښتو ژبې او ادب کښې د لوړ مقام خاونده ده. دهغې د_ادبي خدماتو په اعتراف کښې زهٔ دا شعر وړاندې کوم .

بادشــــاهانو ورکړه لعل وجواهر وي<br>
د ادب د خـــاونـــدانو د زړهٔ وینې

سلمٰی شاهین په پښتوشاعرې کښې څلور مجموعې .لري چې د '' نوے سحر'' ( ۱۹۸۲ء)''زهٔ هم هغسې وړه وے"( ۱۹۹۶ء) او بیا د "راوپل( ۲۰۰۳ء) او د`` انتخاب شاهین ( ۲۰۱۱ء ) په صورت کښې پښتو ادب لمن ته سپارلې دي..ددې نه علاوه د او سنې وخت د شاعرۍ برخه د چاپ عمل کښې روانه ده.

د یوې معیارې شاعرې نه علاوه ښه نثرلیکونکې هم ده چې په افسانه ، ناول ، تکل او سفرنامه کښې ئې خپله قلم ازمائې کړې ده . د افســانو مجموعه ئې په کال ۲۰۰۱ ء د''کانې او ازغې``په نوم چاپ شــوے ده چې په پنځلس افسانې او څلور تکلونه لري ـ په دې افسانو کښې پلاټ ، مرکزي خیال ، علامت نګارې او کردارونه زمونږ د ملک د هرې ژبې د افسانو سره په مقابله کښې کېښودے شو ــــــ د پښتو یو ناول ''که رڼا شوه`` په کال ۱۹۹۸ء کښې چاپ شوے دے ـــ او په دې ناول سلمٰی شاهین دوه ځله ایوارډ ترلاسه کړے دے.او '' روشـــنی ہوئی تو `` په نامه اردو کښـــې نقیب احمد جان ژباړه کړے دے ـ

د تحقیق په مېدان کښې هم خپل سوچ وفکر په ذریعه مهم کردار لوبولے دے۔ د سلمٰی شاهین اولنے فولکلوري تحقیق د ''روهي سندرې''چې د فولکلور خزانه یا انسائېکلو پېډیاده ۔ چې په دوه جلده کښې چاپ شوې ده ۔ په دې کښې ټولې شپږ دېرش زره (۳٦۰۰۰) ټپې په الفبا ئي ترتیب کښې خوندي کړې شوي دي ۔ دې فکلورې تحقیق ته هم ایوارډ ترلاسه کړےدے ۔ دا د فولکلور یو لویه خزانه ده چې د سلمٰی شاهین نامه به پرې تل ترتله روښانه وي او دا کار د تحقیق په لار کښې د څېړنګارانو دپاره ډیر ارزښت لري ۔ بل دروند کار ئې دتحقیق په مېدان کښې د پي ایچ ډي مقاله '' جدید نظم په پښتو کښې''په نامه لیکلے ده. چې د تحقیق د لارې سکالرانو او لیکوالانولپاره تر نن ساعت پورې ډیر اهمیت حامله ده ۔ ''اباسین د تاریخ په ائینه کښې'' او ''د پښتو ټپې معاشرتي او ثقافتي اثر'' د تحقیق غوري علمي نموني دي ۔ د اردوژبې او ادب په لار کښې "پشتونوں کے موسیقی کے آلات"،"پشاور شہر کے روایات"،امیر حمزہ شنواری کی زندگی اور فن کا مطالعہ"اور"پاکستانی ادب میں خواتین کا کردار" او تور سرې"( تحقیق وتدوین ) ئې نورمنثور لیکونه دي ۔ د نورو لیکونو ناچاپه پنګه ئې په شاعرې، خودنوشت او اردو کښې ژباړه شوي افسانه ''پتھر اور کانٹے'' باندې مشتمله ده..ددې نه علاوه په کتابونو ګڼې مقدمې او دیباچې هم لیکلي دي ۔ د ''پښتو'' مجلې دپاره ئې نهۀ کاله اداریې لیکلي دي ۔ دوه دېرش ریسرچ پېپرې او دېرش د کتابونو نظرثاني کړې دي ۔ د ملازمت دوران پوره دوه دېرشه کاله ئې پښتو اکېډیمی ته خپل خدمات ورکړي دي ۔ چې د پښتو اکېډیمی په تاریخ کښې به همیشه یاد ساتلے شي.

د سلمٰی شاهین د ادبي خدمتونه ستائینې په لړ کښې د خپلې زمانې ډېرو نوموړو شاعرانو او ادیبانو د مینې

او عقیدت پېرزوني وړاندي کړي دي او د مختلفو حکومتي او ادبي بورډنو لخوا په ایوراډنه ورکړي شوي دي ۔ په کال۸۳ -۱۹۸۲ء کښي ورته د اباسین ارټ کونسل ایوارډ ورکړے شو. دغه شان په کال ۱۹۹۶ء کښي ورته د'' پاکستان اکېډمی آف لیټرز ایوارډ ( حجره ایوارډ''په کال ۱۹۹۶ ء ''چاچا کریم بخش ایوارډ ''ورکړے شوے دے. په کال ۱۹۹۸ء کښي د'' اباسین ارټ کونسل ایوارډ ''په کال ۱۹۹۴ء کښي او'' پشتون کلچر ایسوسی ایشن ایوارډ''تر لاسه کړے دے. د حکومت پاکستان له خواء صدارتي ایوارډ'' تمغه امتیاز''د سلمٰی شاهین د اد بي خدماتو اوستر مقام یو پوخ ثبوت دے.په کال ۲۰۱۷ء دخویندو ادبي لښکر اعتراف فن ایوارډ اود افغانستان د حکومت لخوا په کال ۲۰۱۸ء کښي د افغانستان تر ټولو لوړ ایوارډ (د ملالي میوندي عالي دولتي مډل) هم حاصل کړےدے.

ددي نه علاوه د سلمٰی شاهین د ادبي کارونو یادونه په ډیرو کتابونو او تحقیقي مقالو کښي شوي ده لکه د ډاکټر شاه جهان ایم فل تحقیقي مقاله ''د''پښتو ادب کښي د مېرمنو برخه'' ۱۹۹۳ء ، د پروفېسر افضل رضا تحقیق ''پنځه شمعې'' ۲۰۰۶ء، د ښاغلے همېش خلیل ''پښتانهٔ لیکوال'' ۲۰۱۱ ء ، د ډاکټرانیتااعظم د پي ایچ ډي مقاله ''د پښتو په افسانوي ادب کښي د ښځې اولسي مقام او کردار'' ۲۰۱۰ء ، د ډاکټر جهان عالم”پي ایچ ډي مقاله ''د پښتو اکېډیمی پېښور یونیورستۍ د علمي او تدویني خدماتو تنقیدي مطالعه ''سیشن۲۰۱۶ء ، ډاکټر شکریه قادر ''دشلمې صدي پښتو ښځینه ادب کښي د ښځو سماجي او نفسیاتي مسئلو تجزیا تي مطالعه '' سیشن ۲۰۰۷ء -۲۰۰۸ء

، دډاکټر امین تنها **''پښتو ادب کښې تکل نګاري ''سیشن '' ۲۰۱۲ء اوداسې نورې ګڼې** د پی ایچ ډي او ایم فل مقالې شاملې دي ددې نه علاوه د هغې په ژوند او اثارو ځینې څیړنیزې مقالې هم لیکلې شوي دي چې د ډاکټرفرخنده لیاقت ریسرچ پېپر '' د پروفیسر ډاکټر سلمٰی شاهین ژوند او ادبي خدمات '' پښتو مجله ، جولائي ـ دسمبر په کال ۲۰۱۸ء کښې چاپ شوے ده. او داسې نور لیکونه چې د سلمٰی شاهین د ژوند ، منثور او منظوم ادبي خدماتو د ایم فل او پی ایچ ډي څېړنو او تذکرو په سطح لنډه غونډې جائزه اخستې شوې ده ـ په دې موضوع په پښتو ادب کښې په باقاعده او منظمه توګه د پی ایچ ډي په سطح باندې کار روان دے. چې په کښې د سلمٰی شاهین په علمي او ادبي خدماتو منظمه او مربوطه توګه څېړنه شوي ده.

د محترمې سلمٰی شاهین شخصیت او ادبي مقام په درنښت کښې ګڼو شاعرانو، ادیبانو د هغې علمي او ادبي مقام ښودنه په خپلو لیکونو کښې کړې ده چې ادب او تاریخ په پاڼو کښې ډېر اهمیت لري.

سلمٰی شاهین د ادب په مېدان کښې دخپل بیان اوانداز له وجې مقبولیت لري. او دغه بیان اوانداز د هغې د شخصیت رونړ عکس دے او هم ددې نه مونږ د هغې انفرادي او امتیازي خصوصیات لیدلے کتلے شو. اود هغې د فن جائزه اخستے شو. سلمٰی شاهین یو خوږه درنه او غیرتې پښتنه پیغله ده چې خلقوته د قدر اوعزت په نظر ګوري.خو د نا حق او بې انصافې باندې نه صرف تنقید کوي بلکې په ډاډه زړه جنګ کوي.

که لوئې کرم راسره ښائې
یوه ښائسته یم بل د لویه کوره یمه

هغې ته په لیکونو کښې دخپل جذبات ,احساسات او د زړۀ واردات په ډېره فنکاري او هنر سره بیانولو چل ورځي.او د خپلو افکارو په ذریعه دنیا ته دخپل ذات پټ اړخونه ښکاره کوي ـ

هغه په خپل لیکونوکښې د زندګې د ښو او بدو اړخونو کـښې د فرق ښودلو نه صرف قوت او صلاحیت لري بلکې نورو ته د خپل لیک او عمل په سوب لارښودنه هم کوي . ادبي , انقلابي ,اخلاقي ، ذهني او روحاني توګه سوچ او فکر کولو ته بنده مائله کوي.

سلمٰی شاهین د جذبو او لفظونو هاغه جادوګره فنکاره ده. چا چې د خپل تخیلي او فکري قوت په وسیله د لو ستونکو په زړۀ او ذهن په ژوندوني حکومت کړے دے. چې د مقبولیت اوشهرت دا مقام د ډېرو کمو خلقو په برخه نصیب دے. د پښتو ادب ماهرینو مورخینو ,محققینو سلمٰی شاهین یوغوره لیکواله منلے ده.او لوړ ادبي مقام ئې وربخښلے دے.ځکه چې د هغې لیکو نه معیاري او د مقصد نه ډک دي. د سلمٰی شاهین شکلي انداز و بیان د هغې د شخصیت عکاس دے. ډاکټرعارف نسیم د ادیبانو ستائل او انداز و بیان په حواله لیکي.

'' یو ادیب او ادب مجموعي اثر ، ددې طرز ، ددې اظهار ذریعه ددې ځان له خصوصیات او خوښې د نورو ادیبانو د ادبونو نه جدا کوي او دا هر څه په ستائل او انداز و بیان بللے شي په دې جامعه بشپړه معنې کښې انداز و بیان د شخصیت د اظهار او ښودنې یوه ډېره خوندناکه ذریعه ده.(1)''

هغې د پښتوژبې او پښتون قوم په خدمت کښې خپله شپه او ورځ یو شان محنت کړي او د ائې د زړۀ ارمان دے چې

پـ ښتو ژبـه مخ پـه تـرقـي روانـه شي.. ډاکـټرفـرخنده لـیـاقـت د سـلمٰی شـاهین د پـښـتـو سـره ددې مـینـه پـه حـوالـه د خـپلـې تـحقـیقـي مقـالـې نـه دا نـتـیجه اخذ کـوي.

''د سلمٰی شاهین د پـښتو سره مـیـنـه د هغې پـه ختـه کـښي اغـږلـې شوې ده نـو کـه پـښتو نـظم دے کـه نـثـر کـه تـحقـیـق دے او کـه تـنـقـیـد پـه هـر مـیـدان کـښي ئـې د خـپل سـوچ و فـکر اسـونـه زغلـولـي دي .او چې کـوم اړخ تـه ئـې د قـلم مـخه شـوې ده نـو هلـتـه ئـې د کـامـیـابـی او کـامـرانـی جـهنـډې نـیـغې اودرولـي دي ـــــ پـه پـښـتـنـه معا شره کـښې د یـوې ښځې دپـاره ځـان لـه یـو ځـانـګړے مقـام لـه پـاک دا مقـام جوړول کـه نـامـمـکن نـه دي خو ولـې ډېـر ګـران ضرور دي او سلمٰی شاهین تـه الله ورکـړے دے. (2)''

اردو ,پـښتـواود انـګلـسي ژبـې نـومـوړي ادیـبـانـواو شاعرانـو لـه اړخه دمـحتـرمـې سلمٰی شاهین علـمي او ادبـي مقـام پـه حقـلـه تـاثـرات وړانـدي کـوم.پـه دې کـښـې.د پـښـتـو مـشـهـور شاعر رومـان ساغر پـروفـېسر سلمٰی شاهین تـه خـپل منظوم پـېـرزوئـیـنـي وړانـدي کـړي دي.

د ادب شمع پـه لاس چې د سلمٰی شوه
د غزل د تـورو مـیـنـه کـښـی رڼـا شـوه
د پـ ښتـو د پـیغلـي سر ځنـه بـه او شي
پـه کـ ښي ګـډه د سلمٰی د لاس حـنـا شو
د سلمٰی د سر پـړونـي بـه ګل ګل شي
د پـ ښتـو سپـرلـي تـه سا زۀ کـه فـ ضا شـــوه
پـښـتـنـه جونـه بـه سـاه آزاده واخـــلـــی

د سلمٰی د چم بدله که هوا
شوه
پښتود زلمو سترګی ځکه سري شوي
چې راسرۀ پری د سلمٰی د مخ حیا
شوه
چې سلمٰی نوے سحر د غزل رواست
د نوا په قافله کښی شور و غوغا
شوه
ما د ګل ځا نګی نه سوال د ګل
اوکړو
د ګلونو خانګه ما ته په خندا شوه
د اردو سلمٰی فر ضي او خیالي وه
د پښتو سلمٰی د ورځ غو ندې رښتیا
شوه
د سلمٰی په مخ په آب به سا غر ډک
شي
که ایشیا کښی چرته زیاته
پښتونخوا شوه (3)

د پښتوژبې شاعر,ادیب او استاذ ډاکټر شېرزمان سیماب پروفېسر سلمٰی شاهین ته دخپلي مینې او عقیدت پېرزوئنې په دې شکلو شکلو ټکو کښې وړاندي کړے دے..

سلمٰی شاهین

---

مجسمه د حیا

د ,, سرېتوب ،، آئینه

د شځیتوب منارہ
دا د ,, راوېل ،، د ګلو
یو مرتب ګلدسته
دا د شعور ملوکه
دا د احساس ، د وجدان
د پریستان ښاپېرۍ
د شاهیني فکرونو
د روح ,, روهي سندري,,
دا د نغمې په تل کښې
یوه رنګینه معنٰی(4)

د پښتو اکېډمۍ ډاریکټر پروفېسر نواز طائر سلمٰی شاهین د نزدونه پېژنده ,ځکه چې د هغوي د مشري او ادرات لاندې محترمې ګڼ مهم تحقیقي او فولکلوري کارونه سر ته رسولي وۀ . ښاغلے نواز طائر صېب د هغې د لیک انداز او فکر نۀ ښۀ خبر وۀ . هغه د محترمې ادبي مرتبې او مقام په اړه د خپلو مهمو خیالاتو اظهار کړے دے.

''سلمٰی شاهین د پښتنې معاشرې د نوي کهول د دغې مېرمنو د ډلې یو فرد د ے چې ادبي ذوق ئې ژوندے دے.د فکر د احساس مېرمن ده. او په زړۀ کښې ئې هغه جذبات غزوني کوي. کوم چې زمونږ د معاشرتي ژوند په ښو بدو تنقید کوي. او خپلو لوستونکو ته یو داسې پېغام ورکوي. چې هغې کښې هغه ټول خصوصیات موجود دي .کوم چې د یو حساس زړۀ لرونکې شاعرانه مزاج د فکر په دنیا کښې رازېږېږي. او د پښتون ماحول سره مطابقت هم لري خو په داسې شکل کښې چې تحریک په ځاے تعمېر پلو رهنمائي کوي. او دهغوي کمزوریانواو نیمګړتیاګانو باندې سختې سره تنقید کوي. دا مختصر شان کتاب د یوے پښتنې

مېړمن د جذباتو ترجمان دے. د يو داسې پښتنې چې د ادب او شعر سره تړون کښې ئې تربيت موندے دے. د هغې ړومبۍ کوشش بايد چې آخري کوشش نه وي. ځکه چې د عمر تيرويدو سره د فکر تسخيري تجربه سيوا کېږي. او د اظهار قوت ودۀ کوي. نو پکار دي چې د شاهين د نوے سحر د يو بل سحر د پاره ړومبۍ پوړے شي. دغه شان ډېر سحرونه به په شاه راښکاره شي، (5)''

ډاکټر راج ولي شاه خټک او سلمٰی شاهين په پښتو اکېډمۍ کښې يو ځائے ريسرچ افيسر په حېث کار شروع کړے وۀ او دوي تقريبا تر ديرشو کالوپوري يو ځائے کار کونکي ملګري پاتې شوي وۀ. شاغلے راج ولي شاه د ډاکټر سلمٰی شاهين د ادبي مقام په حقله ليکي.

''سلمٰی د جديد نظم داسې شاعره ده چې د خپل داخلي احساس په څرګندولو ښه قدرت لري. دا خبره زۀ ځکه کوم چې په کومو موضوعاتو هغه نظمونه ليکي، او په کوم انداز ئې ليکي په عام ژوند کښې د داسې احساس ښکاره کولو دپاره د قدم ايښودو هېڅ لاره نشته. د هغې د جمالياتي ادراک هغې ته چې کوم ائيډيل تخيل ورکړے دے. هغه باريک هم دے ګران هم دے او ترډېره حده د يو نا ممکن صورت حال هم مخ کېږي. د هغې اکثر نظمونه د رجائيت او قنوطيت د يو عجيبه امتزاج مظهردے. کله کله تري يو خبره داسې تجربې ته اورسي چې د منزل نخښې ټاکل پکښې ګران شي خو دا خبره ډېره ښکاره ده، چې د سلمٰی شعرونو کښې سل في صده نسوانيت په نظر راځي. هغه د دي خبري ثبوت دے چې سلمٰی شاهين د خپل ذات او د پښتون احساس پښتنه شاعره ده. (6)''

سلمٰی شاهين بنيادي طور صاحب طرز او حساسه شاعره او نثر ليکونکې ده . په ازاد نظم ليکونکو کښې خپل مقابل نۀ لري

. د هغې په لیکونو کښې زنانه ا و غریب وګړې د توجو مرکز ګرځېدلے دے .د رومانیت او قوم پرستیجذبې هم زړۀ کښې لري .خو د انسانیت اوښېګړې جذبو غلبه د هغې په لیکونو کښې جوت اثرات لیدلے شي .

د سلمٰی شاهین اغلې زیتون بانو سره ادبي تړون لرلو. بانو بی بی.په خپله مقاله ''سلمٰی د ژوندو جذبو مېرمنه'' کښې د خپل خوندور فکر او لېک په ذریعه د سلمٰی شاهین د مقام ټاکنه ډیرښکلې انداز کښې کړے ده.

'' په حقیقت کښې د شاهین قلم د نوي کول د کلهمو حساسو او ذهینو شاعرانو د قلم هسې څه لږ ډېر باغي هم دے ـ دا بغاوت سلمٰی د خپل اولس د ناروا دود دستور ، غلطو رواجونو رسمونو د مودو مودو زړو مخښلو روایاتو د بې روه بې ګودره پابندو، د اولسي ژوند د هرې ورځې راپېښېدونکو کشالو لانجو ، د زور زیاتي خلاف دے ـ خو شاهین د خپل باغي قلم واړې د خپل شعور خپلو کلکو ذاتي فېصلو او د خپل روغ نیت په منګلو کښې کلکې نیولې دي ـ نو څکه ئې قلم بې واکه نه دے ـ د سلمٰی شاهین دغه بغاوت ددې د نظمونو په رغونه کښې تت خو دے خو د معنو او مفهوم په لحاظ ډېر جوت او زور ور ښکاري لکه د مثال په طور دا نظمونه واخلئ ـ د مینې دښمنان،ښځه،یو تپوس،دار،د یومِ مئ نظم ، د رڼا سحر(7) ''

بانو بي بي وړاندي خبره زیاتوي.

''سلمٰی چې څه وینې څه ګوري څه پرې تېرېږي . هغې کښې مونږه هم برابر شریکوي. او څکه خو زمونږه تولو په شریکه سلمٰی شاهین خوښه ده ـ که دا رښتیا وي نو بیا زۀ په حقه یمه ـ چې سلمٰی شاهین د ژوندو جذبو مېرمنه شاعره اوګڼم.''(8)

د اردو ژبې ليکوال شاغلےمحمد شفيع صابر د سلمٰی شاهين په حقله ليکي ,

سلمی شاہین پشاور یونیورسٹی کے شعبہ پشتو سے وابستہ ہیں۔ اعلٰی تعلیم یافتہ خاتون ہیں۔ اُن کا شعری مجموعہ نوئے سحر (نئی صبح) منظر عام پر آیا، تو قاری چونک اٹھے۔ کہ واقعی نئی سحر کی شاعرہ نئے تجربات، نئی صداقت، نیا اسلوب اور نئی امیجرز لے کر شعر و سخن کو دنیا میں وارد ہوئی۔ ان کے ہاں صداقت اور خلوص کی نمایاں خوبیاں ہیں۔ وہ ایک نیا پیغام اور نیا ولولہ لے کر اس میدان میں وارد ہوئی.(9)"

عبدالله جان عابدد سلمٰی شاهين ادبي مقام په حقله خپل خيالاتو اظهار کړے دے..

"سلمٰی شاہین جدید پشتو شاعری کی ایک مقبول اور توانا آواز ہے۔ جدید شعری اصناف کی علاوہ غزلیں بھی کہیں ہے۔ جن میں ایک خاص لہجہ متعین ہو چکا ہے۔ جو غزل کی روایت کے ساتھ جدید انداز شعر گوئی اور لطیف نسوانی احساسات کے خوبصورت امتزاج کا حامل ہے۔ پابند نظمیں بھی کھی ہیں لیکن آزاد نظم کی طرف خصوصی توجہ دی۔ اور اس میں نت نئی تجربے کر کے انتہائی جرأت کے ساتھ اپنی داخلی جذبات اور احساسات کا اظہار کیا۔ یا دوسرے لفظوں میں ہم کہہ سکتے ہیں کہ ان کی آزاد نظمیں داخلیت کے بے ساختہ اظہار ہیں۔ جن میں جدید انداز فکر کا رچاؤ بھی ہے۔ سلمٰی کے ہاں زندگی کی صداقتیں بھی ہیں۔ ماضی کی توانہ روایات بھی ہیں۔ اور عصری معاملات کی اگہی بھی ہے۔ یہ سب باہم منضبط ہو کر ان کی شعری تخلیق کو جنم دیتی ہے۔ محبت، انتظار، پشتون معاشرہ میں عورتوں کے سماجی مسائل اور سماجی اونچ نیچ ان کی شاعری کے خاص موضاعات ہیں۔(10)"

روزنامه الوحدت اخبار "نوئے سحر ایک مطالعہ" سرخط لاندي د خپلو خوندورو لفظونو،فکرونو او خيالاتو په ذريعه د سلمٰی شاهين ادبي مرتبي تاکنه کوي.

"نوے سحر "پشتو اکیڈمی کی آسہ سلمٰی شاہین کا وہ شعری مجموعہ ہے۔ جس میں آزاد نظموں اور غزلوں کو شامل کیا گیا ہے۔ زیر نظر کتاب کا بغور مطالعہ کرنے کے بعد یہ حقیقت اظہر من الشمس ہوئی ہے، کی سلمٰی شاہین نہ تو فہمیدہ ریاض کی طرح باغی اور نہ پروین شاکر کی طرح ڈرپوک ہے۔ بلکہ اس نے اپنے مافی الضمیر کو جدیدیت اور کلاسکیت کے ملے جلے پر کشش انداز میں پیش کیا ہے۔

سلمٰی شاہین کا ہر ادب پارہ ایک خود رو جنگل کی طرح ہے۔ اگر آپ بھاری قدموں کے ساتھ شور مچاتے ہوئے اس جنگل میں داخل ہونگے. تو وہ چوئی موئی کی طرح سمٹ جائیگا۔ اور آپ اس میں ایک مکمّل سناٹے کی سیوا کچھ نہیں پائیں گے۔ لیکن اگر آپ دبے پاؤں داخل ہو کر کسی پیڑ کے سنّاٹے میں آرام سے جا کر بیٹھ جائینگے۔ تو چند لمحوں کے بعد جنگل بولنے گا۔ اور پھر جنگل کا سارہ طلسم آپ پر منکشف ہو جائیگا۔(11)"

د سلمٰی شاهين ادبي مرتبي په حقله ورځپانه مشرق کښې ښاغلے ايوب صابر ليکي.

"پشتو ادب میں بھی ایک پروین شاکر پیدا ہو گئی۔ سلمی شاہین ایک دھاکے کے ساتھ منظر عام پر آئیں اور پشتو شاعری پڑھنے والوں کے دل و دماغ سلمی شاہین ایک حساس خاتون ہیں اور ان کے مزاج میں جستجو کا مادہ کوٹ کوٹ کر بھرا ہوا ہے. وہ سچ کی متلاشی ہیں اور ہمہ او قامت اشیاء کی اصلیت معلوم کرنے کی ٹوہ میں رہتی ہیں ان کی طبیعت کا میں یہی خاصا فارغ التحصیل ہو

نے کے بعد ان کو پشتو اکادمی میں گھسیٹ لایا اور وہ ایک عرصے سے یہاں تحقیق کر رہی ہیں۔

سلمی شاہین ایک ایسی بیقرار روح کا نام ہے جو ہمیشہ میں سوچتی رہتی ہے کہ انسان کے گرد و پیش جو کچھ ہو رہا ہے۔ وہ کیا ہے، کیوں ہے کیسے ہے اور اس کا انجام کیا ہو گا۔ خود ان کا کہنا ہے کہ وہ خواب میں بھی جستو میں مصروف رہتی ہیں۔ ان کے ارد گرد معاشرتی مسائل، اپنی ذات کے مسائل، لوگوں کے مسائل اور دنیا کے مسائل کا ایک حصار ہے۔ انہوں نے شوپنہار کی طرح زندگی کو ایک المیہ کہا تو نہیں مگر سمجھا ضرور ہے۔ تاہم ایک بات طے ہے۔ زندگی کے مسائل سے گھبرا کر انھوں نے فرار کے راستے تلاش نہیں کئے۔ وہ لڑتے رہنے میں اعتقاد رکھتی ہیں۔ ہتھیار ڈالنے میں نہیں۔ یہ ایک الگ مسئلہ ہے کہ ان کی شاعری پر یاس، ناامیدی اور ناکامی کے سائے منڈلاتے نظر آتے ہیں۔(12) "

ښاغلے ايوب صابر وړاندې ليکي.

"مگر اس حقیقت کا اعتراف کرنا ہی پڑتا ہے کہ وہ اپنے گرد و پیش سے خوفزدہ کبھی نہیں رہیں۔ وہ فہمیدہ ریاض اور کشور ناہید کی طرح منہ پھٹ تو نہیں ہیں۔ مردوں کے سامنے اول تو کھلتی ہیں۔ کبھی زبان کھولنی پڑے تو بڑے ادب سے بات کرتی ہیں مگر جب تنقید کرنے پر آتی ہیں۔ تو بڑے سے بڑے شاعر اور ادیب کو بھی معاف نہیں کرتیں۔ اس ضمن میں ہم مثالیں بھی پیش کر سکتے ہیں۔ مگر فساد خلق کا خون دامن گیر ہے۔ سلمی شاہین کی سب سے بڑی خوبی یہ ہے کہ وہ صاف اور کھری باتیں کرتی ہیں اور ان کی سب سے بڑی خامی یہ ہے کہ وہ لوگوں کے ظاہر اور باطن میں فرق نہیں کر سکتیں۔(13)"

ورځپانه " فرنټير پوسټ ۸ دسمبر ۱۹۹۷ء" کښې د سلمٰي شاهين په حقله شير عالم شينواري ليکي.

''Salma Shaheen is the Sappoh of Pakhtu and her poetry has psychological truth

which expresses human nature in general. According to a critic,"it is not always the author who is speaking himself, it is the voice of human race which is speaking through himself. (14)''

ترجمه : سلمٰی شاهین د پښتو سیفو (Sappoh)ده او د هغې شاعری نفسیاتي حقیقت لري چې په عمومي ډول د انساني فطرت څرګندونه کوي. دیو نقاد په وینا دا تل لیکوال نهٔ دی چې پخپله خبرې کوي . دا د انساني نسل غږ دے. چې د خپل ځان له لارې خبرې کوي.

سلمٰی شاهین په فکر پښتنه ترقي پسنده شاعره ده.دوي شاعری اونثر دوړاه دفکر د شته مني سره دامید لمن په خپل موتې کښې کلکه نیولي ښکاري. هغهٔ په خپل لیکونو کښې د ژوند د خوشحالواو د امیدونو زیري ورکوي .که خپل زړهٔ ئې که خفه اودلګیرهم وي. خودنورو انسانانو حوصله نهٔ ماتوي دا ټول هر څه لوستونکي د سلمٰی شاهین په . نظم او نثرې لیکونو کښې محسوسوي. هغه داپېغام ورکول غواړي .چې.هرې سختې پسې خوشحالي شته . هغه بنیادمانو , پښتون قوم او په خاصه توګه زنانوؤ ته دا درس ورکوي .چې.په تعلیم خپل فکرونه رانه کړي.اومحنت او د علم په ذریعه د خپل ژوند او معاشرې نه تیرې لرې کړي. دسلمٰی شاهین دا پېغام او اندازبیان د ټولو ترقي پسندو,ادیبانو,شاعرانو په شان دے.

رحمت شاه سائل دسلمٰي شاهین په حقله لیکي.

''زهٔ خپله د هرې پښتنې شاعری سره سره سلمٰي عظیمه شاعره ګڼمه. چې که د دغې روایت پاسداري هم کړې ده. خو د نوؤ او تازه جذباتو پیش کولو جرأت ئې هم کړے دے. که د سلمٰي د دې کتاب د پاره هغه

روايتي لفظونه استعمالول ضروري نه ګڼم, چې کومو کښې چې وئيلے شي. چې دا کتاب به د پښتو ادب په پنګه کښې اضافه اوکړي, بلکې زما په خيال د دې دا کتاب يو مقام پکار دے. يو په دې چې دا يوه جديده شاعره ده او بل په دې چې دا د يوې زنانه شاعرۍ تخليق دے. دا بهادر جرات يو ژوندے دليل دے. سلمٰي يوه عامه شاعره هم نه ده, يو دردمنده, قام پرسته, جنګيالي پښتنه شاعره ده. دا شاعره په هره حواله زمونږ د ناز هم قابله ده او د وياړه هم . ځکه منصب ئې هم دپښتو د ودې او د تحقيق د کار دپاره دے. (15) ".

پښتو اکېډيمۍ پېښور يونيورستۍ له طرفه د ډاکټرسلمٰي شاهين په درناوي کښې په کال ۱۳ فروري ۲۰۱۴ء يو ا دبي غونډه بللے وه. په دغه غونډه کښې مشر ميلمه پروفيسر رسول جان وائس چانسلر پېښوريونېورستې,او ګڼو پښتو شاعرانو او اديبانو ګډون کړے وو.دغې نومورو شاعرانو او اديبانو د " ډاکټر سلمٰي شاهين ژونداوفن ''عنوان لاندې نظم او نثرکښې خپلې خپلې پيرزوئنې وړاندې کړې وے.چې داد يوې پښتنې زنانه شاعرې او اوليکوالې په حېث ډېره د فخر او وياړنې مقام دے. په دې لحاظ محترمه بختوره زنانه ليکواله ده چې خپل عزت، مقام ومرتبه ئې په ژوندنې په خپلوغړيدلو سترګو اوليدو.کوم چې ژوندنې چا شاعر او ا ديب ته نۀ دې نصيب شوے. دا د سلمٰی شاهين د ادبي هلو ځلو نتيجه ده.

ددې نه علاوه نور ګڼ شمېرکتابونه ,مجلې او ورځپاڼې شاملې دي. په دې کښې اديبانو, شاعرانو دمحترمې ژوند او فن او د هغې د ادبي مقام په حقله ليکونه کړي دي او هغې ته ئې د خپل مينې عقيدت پيرزوئنې وړاندې کړي

دي.

سلمٰی شاهین په حیث یو ښهٔ منتظمه ، ډاریکټریس ، شاعره , ځېړنګاره، ناول لیکونکي، افسانه لیکونکي او فولکلورسټه پاتې شوې ده .هغه دپښتو ژبې او ادب او د پښتون قام هاغه محسنه ده .چې د یوې زنانه لیکونکي په حیث نه صرف د پښتنوزنانؤ مسائل مخې ته راوستل .بلکې د معاشرې غریب اولس مسائلو ته هم پام اوګرځولو. او د پښتون قام او د ژبې په پرمخ تګ کښې تر خپله وسه ډېرې هڅې کړې دي . پښتو ژبې اودب د تاریخ په پاڼوکښې به ددوې نوم تل ژوندے وي. سلمٰی شاهین د خپل هنري لیک په سبب هغو ښاغلو او اغلو کښې خپل نوم درج کړے دے. د کوم په حقله ستر خوشحال خان بابا د نن نه درې سوه کاله پخوا وئیلي وهٔ..

مړهٔ هغه چې نه ئې نوم نه نشـــــــــــــــــــــــــــان شـــــــــــــــــــته
تل تر تله په ښه نام پائي ښـــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــاغلي

## حوالې

1. نسیم پروفېسر ډاکټر عارف ، ادبي تنقیدي څنې څانګې اړخونه ، امین پرنټنګ پرېس پېښور ښار ، جون ۲۰۰۷ء **,مخ۲۸۵,**

2. فرخنده لیاقت, د پروفېسر ډاکټر سلمٰی شاهین (تمغه امتیاز)ژوند او ادبي خدمات"پښتو جلد ۴۷ ,نمبر ,٦٥٦,جولائي ـ دسمبر ۲۰۱۸ء،مخ ۱۱
3. رومان ساغر، مشموله پنځه شمعي جدون پرنټنګ پرېس پېښور ښار ۲۰۰٦ء، ، مخ,,۴۲۳
4. ډاکټر شېرزمان سیماب, '' زماد شوق لیونتوب'' خورونکې ,تانه ادبي ټولنه , مالاکنډ,چاپ کال ۲۰۱۵ء
5. پروفېسر نواز طائر **سریزه، نوے سحر ,,شاهین پرېس پېښور ، ۱۹۸۲**ءمخ,۷
6. ډاکټرراج ولي شاه خټک, سریزه , راویل, جدون پرنټنګ پرېس پېښور ښار ,۲۰۰۴ء,مخ,۱
7. زیتون بانو مقاله. ''سلمٰی شاهین دجذبو مېرمنه. ''دري میاشتني مجله. پښتو ,جنوري ,فروري ,۲۰۰۶ء ،جلد نمبر ۳۶،شماره ۱ ،_۲_۳ ,سلسله نمبر , ۵۷۷,مخ,۱۴۹
8. همدغه اثر ,مخ,۱۵۱
9. محمد شفیع صابر "شخصیات سرحد.یونیورسټي بک ایجنسي خیبر بازار پشاور، سن ندارد,ص,۱۰۱۷_۱۰۱۸
10. عبداللہ جان عابد، پشتو زبان وادب کي مختصر تاریخ،یونیورسٹی پبلشرز طبع اول۲۰۰۶، ص ۲۶۲
11. روزنامہ الوحدت،نوئے سحر ایک مطالعہ، یکم اگست ۱۹۸۴ء، ص، ۴
12. ایوب صابر،روزنامہ مشرق,۲۵جون,۱۹۸۲ء
13. هم دغه اثر
14. Sher Alam Shinwari,,The Forntier Post ,December 8,1997
15. رحمت شاه سائل '' پښتو شاعری آئیني''عامر پرنټ ایندپبلشرز پېښور ۲۰۱۶ء ،مخ,۲۵۹